دکتور محمد علي هوما ۲۰۱۰/۰۲/۲۷م

# رښتینی سیاسي غورځنګ

په هېواد کې د نویو سیاسي او ټولنیزو شرایطو په منځته راتګ سره د سیاسي ګوندونو د جوړولو لپاره هم نوی قانون جوړ شو. د دغې قانون له مخې هرهغه سیاسي ځواک په رسمي توګه راجستر کیدلای شي چې د افغانستان عدلیې وزارت ته د اړوندو اسنادو سره یوځای د لږ ترلږه لسو زرو( ۱۰۰۰۰ ) همفکرانو لست وړاندې کړي . هغه سیاسي ګوندونه چې څو کاله مخکې د اوو سوو( ۷۰۰ ) کسانو په غړیتوب سره راجستر شوي وو، د نوي قانون په بنسټ مکلف دي چې د تذکرو له مخې د لسو زرو غړو نومونه د عدلیې وزارت ته وسپاري ، که نه د خپل فعالیت حق به په رسمي توګه له لاسه ورکړي .

د خوښۍ ځای دی چې اوس په افغانستان کې هر څوک کولی شي چې تر ټاکلي بریده خپل نظر او سیاسي عقیده ظاهره کړي. یو شمېر افغان روڼ اندو د یادې شوي مسئلې په اړه له ځان څخه یو لړغبرګونونه ښکاره کړل چې د هغوی له ډلې څخه د پوهنمل حاجي محمد نوزادي رغنده لیکنې زما پام هم ځانته ورواړاوه. د ځان سره مې وپتییله چې د نوموړې لیکنې په ملاتړ کې یو څه ولیکم ، خو متأسفانه په هغه وخت کې مې یو لړ ستونزو د دې کار مخه ونیوله.

لکه څنګه چې ټولو ته جوته ده، څو کاله مخکې د جاري پالیسۍ له مخې اړتیا وه چې ډېره کوچنۍ ډله هم په افغانستان کې د سیاسي فعالیت حق ترلاسه کړي، خو د رنګارنګ هڅونو په پای کې د سیاسی ګوندونو شمېر تر سلو هم واوښت. سیاسي ګوندونو ځانته د تجارتي مؤسسو بڼه غوره کړه او د هغوی سیاسي شعارونو په بشپړه توګه خپل اغېز له لاسه ورکړ. هغه سیاسي ګوندونه چې سره ورته موخې او سیاسي مرامونه یې درلودل په یوه غښتلي غورځنګ کې سره یوځای کیدای شول. خو د پراخ اغېزمن سیاسي غورځنګ د ایجاد لپاره د بې پلوه روڼ اندو بې الایشه سلاوې د دغو ګوندونو د مشرانو له خوا همېشه په ناسمه توګه تعبیریدلې. د دغو کوچنیو ګوندونو رښتیني لیکې په دوه لاري کې پاتې شوي وې . هغوی هېڅ هم نه شوای کولای، ځکه ټول واک د هغوی د مشرانو په لاسونو کې و اومشران یې یوازې په کوچنۍ ډله کې دعام او تام واک په لرلو سره خوښ وو. منځته راغلي وضعه ډېره زوروونکي وه !
پوهنمل نوزادي په خپله لیکنه کې د سیاسي ګوندونو له لیکو غواړي چې « پر خپلو سرزورو مشرانو باندې زور واچوئ او په دې یې پوه کړئ چې د ورک کیدو او یا سره یوځای کیدو تر منځ انتخاب وکړي ، دریمه لاره نه شته » .
اوس که چېرې په رښتیا سره د ګوندونو مشران د ورک کیدو له وېرې پرته له دې چې په یوه پراخ غورځنګ کې داړینو عینی شرایطو تر برابرولو د مخه او د کارنده تشکیلاتي اصولو له مراعات او پلي کولو پرته په ډېره بیړه سره یوځای شي ، نوموړو ګوندونو ته به یې کومې ګټې اوتاوانونه ورسیږي ؟ راځئ چې دغه مسئله په نسبي توګه ژور ه او پراخه وڅیړو :
ددې کارسرسري (سطحي اوځرګنده ) ګټه داده چې دغه کوچني ګوندونه به له سملاسي ورک کیدو څخه وژغورل شي، خو په سیاست کې یواځې په نوم شته والی او بې اغېزه ژوند د یوه توت ارزښت هم نه لري. خلک له سیاستوالو څخه د ملي ګټو د خوندي کولو په اډانه کې د سترو کارونو د ترسره کولو لپاره خورا زیاتې هیلې لري .

لا تر اوسه مو ښه په یاد دي، هغه وخت چې لویدیزوالو د طالبانو رژیم تر جبري نسکورولو وروسته په افغانستان کې په بیړه سره د دموکراسۍ جوړولو بهیر پیل او له افغانانو څخه یې د سیاسي سمبالتیاوو د منځته راوستو غوښتنه وکړه، د پخوانیو ګوندونو یوشمېر ډلو او زیات شمېر روڼ اندو ته د هېواد په راتلونکي سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ژوند کې د بیا برخې اخیستو هیله پیدا شوه. په هېواد کې د ننه او دهغه څخه دباندې د روڼ اندو ترمنځ د غونډو په جوړولو سره سلاوې او مشورې پیل شوې. په هغه غونډه کې چې په دې مناسبت د هالنډ هېواد د امېرسفورت په ښار ( ۲۰۰۴ م . کال) کې جوړه شوي وه، ګډونوالو ته مې په خپله لیکنه کې څرګنده کړه چې : دموکراسي په دستور او فرمان سره منځته نه راځي . د هغې لپاره باید په ټولنه کې په طبیعي توګه د رنګارنګ او پراخو هڅو له لارې د ودې او پخیدو زمینه مساعده شي . څرګنده ده چې یواځې د احساساتو په ښوولو او د خورا نېکو هیلو په څرګندولوسره هم دموکراسي منځته نه راځي . د شخصي، سیاسي او ګروپي اغراضو د ترسره کولو لپاره چل ول او ټګي بره ګی هم د دموکراسۍ سره اړیکي نه لري . زمونږ په نظر ټاکلي اندازه سیاسي پوهه، صداقت او جدي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اصولیت هغه مهم ټکي دي چي د روښانفکرانو په سمبالتیا او په عمومي توګه د واقعي دموکراتیک چلند په سرته رسولو کي اغېزمن رول لوبولی شي .
ما هغه وخت په ډاګه ورته وویل چي : د مختلفو نظریاتو، عقایدو او تګلارو دخاوندانو ترمنځ دګډ پلاتفورم او جبهي جوړولو لپاره خپل منځي پوهاوي ( تفاهم ) ته اړتیا ده ، خو هغه څوک چي په ګډه سره یوه موخه تعقیبوي او د عین ډول نظریاتی اصولو پلویان وي، هغوی باید د ګډې سیاسي تګلارې له مخې په اصولي توګه سره یوځای شي. د داسي کسانو لپاره د پوهي او صداقت په څنګ کي ترهرڅه دمخه سم تشکیلاتي اصول ډېر اهمیت لري . د روڼ اندو د دا ډول تشکیلاتو په اړه مي په مشخصه توګه یادونه ورته وکړه چي : د دې لپاره چي په راتلونکي سمبالتیا کي د ډېرو بدبختیو مخه ونیولای شو، ښه به وي چي په خپلو منځونو کي د سلاوو او مشورو له لیارې د هرې ډلي او نظریاتي ګروپ څخه یو یو استازی او د بې پلوه منفردو کسانو څخه په نسبي توګه زیات شمېر استازي د سمبالتیا مشرتابه ته وړاندي او د بشپړ تایید لپاره په غونډه کي د ګډون کوونکو رایي وربانديې واخلو. پردې برسېره د سمبالتیا کمیټي اجرائیه هیئت دې یواځي او یواځي له بې پلوه کسانو څخه جوړ شي. په دغه صورت کي به د راتلونکي سمبالتیا (انسجام ) په فعالیت کي له یوې خوا د ډلو او ګروپونو په ګډون د ټولو روښانفکرانو نظر موجود وي او له بلي خوا به د روڼ اندو راتلونکي کړه وړه تر ډېره بریده د بېځایه زور ازماینو، بې مفهومه جنجالونو او ستومانوونکو لانجو او مشاجرو څخه وژغورل شي .

پوره یو کال وروسته، د جرمني هېواد دکولن په ښارکي د افغان روڼ اندو د دوه ورځني سیمینار په ترڅ کي مي د روڼ اندو د سمي سمبالتیا لپاره لا صریح او رغنده وړاندیز ورته وکړ. هغه داسي چي : له هر ډول توپیر پرته دې ټول خواره واره روڼ اندي، ملي او مستقل شخصیتونه، ټول کیڼ لاسي او ملي ګوندونه او ډلې د ملي ګټو پر بنسټ د ګډې ملي تګلارې له مخې په پراخ ملي غورځنګ کي یو ځای سره سمبال شي، خو دغه سیاسي بهیر هغه وخت په بریالی توګه پراختیا موندلی شي چي :
الف - د سمبالتیا په مشرتابه کي له هرې ډلي څخه یو یو استازی او د ناپېیلو کسانو څخه د ټولو ډلو د استازو د شمېر په اندازه استازي، ګډون وکړي ؛
ب - د غورځنګ د مشرتابه اجرائیه هیئت باید په سیاسي، اقتصادي ، کلتوري او ټولنیزو چارو کي د ناپېیلو روڼ اندو او ملي شخصیتونو له منځ نه د خورا مجربو،صادقو او د کاروړ کسانو څخه جوړ شي، ترڅو په بشپړه توګه د ملي ګټو اصل په عمل کي پلی کړای شي . کله چي د غورځنګ ګډه تګلاره تصویب شي ، غړي ګوندونه او ډلې دې په نوموړي غورځنګ کي خپل ځانونه په رسمي توګه منحل کړي او د تصویب شوي کړنلارې له مخې دې د هېواد د هراړخیزې ابادۍ او سمسورتیا لپاره په رښتیا سره ملا وتړي .
ج - د سمبالتیا د مشرتابه پر غړو دې له هر ډول وېرې او ډار څخه پرته، د دوی د اصولیت او فعالیت پر بنسټ په پرله پسي توګه نوي کتنه ترسره کیږي ، ترڅو بشپړه مساعده مشري د ټاکلي مودې په اوږدو کي تثبیت او د سمبالتیا فعالیت خپل ځانته د ثبات بشپړه دموکراتیکه بڼه غوره کړي .
د دې وړاندیز په څنګ کي مي دا یادونه هم ورته وکړه چي ښایي ځیني کسان د روڼ اندو د سمبالتیا لپاره دې ډول چلند ته د انتقاد ګوته ونیسي او ووایي چي په بشپړه توګه دموکراتیک نه دی . د دغه ډول تصور په ځواب کي مي ورته وویل چي دا رنګه انتقاد د پوهیدو وړ دی، خو دا هم باید هېر نه کړو چي مونږ یواځي په غوښتنه، دستور او یا فرمان سره دموکراسي نه شو منځته راوستلای. زمونږ هېوادوالو او په خاصه توګه افغان روڼ اندو په خپل هېواد کي د لومړي ځل لپاره د دموکراسی څرک ولید. لکه څنګه چي په یوه ګل نه پسرلی کیږي، نو هماغسي د دموکراسی په ایله څرک سره هم سملاسي بشپړه دموکراسي منځته نه شي راتلای. د دموکراسی په لور باید په زیاتي حوصلي سره ورو، ورو پاخه او اصولي ګامونه اوچت کاندو. مونږ باید د تېر وخت په شان دومره بېړه ونه کړو چي خپلي نېکي او د زړه هیلي ته د سترګو په رپ کي ځانونه ورسوو. دا ډول هوس عملی امکان نه لري .
مونږ نه شو کولای چي کتابي لیکني سملاسي ټکي په ټکي عملي کړو . عیني نړۍ له کتابي او خیالي نړۍ څخه توپیر لري .
په ډېر تأسف سره باید ووایم چي په هغه وخت کي دغو وړاندیزونو ته ان هغو کسانو هم ژور پام ونه کړ چي د افغان روڼ اندو د سمبالتیا لپاره یې زما څخه هم زیاتي هلي ځلي کولي .

د پېښنو بهیر ځای پر ځای نه دریږي،په مختلفو وختونو کي دمختلفو شرایطو په منځته راتګ سره د پېښنو شکلونه او منځپانګي بدلون مومي . د منځته راغلیو بدلونونو په وړاندې پخواني او زوړ چلند د ګټي پر ځای تاوان رسوي . په ۲۰۱۰ میلادي کال کي د هېواد سیاسي او ټولنیز حالات د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ میلادي کلونود سیاسي او ټولنیزو حالاتو په پرتله ډېر توپیر لري. په هغو کلونو کي د دموکراسی د تمرین په پلمه په اسانو شرایطوسره بېشمېره ګوندونه جوړ او بیا په رسمي توګه راجستر شول. په هر ګوند کي د پخوانیو ګروپي اړیکو له مخې د همګټو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کسانو هغه مشرۍ پخې شوې چې دغه کوچنوټي گوندونه يې د خپلو سياسي، شخصي او گروپي گټو د لاسته راوړلو لپاره راجستر کړي وو. هغوی داسي گوندونه غوښتل چې د خپلو کړو وړو په لړ کې يې د دوی ځانگړي گټې خوندي کړي وای . دوی همېشه هڅه کوله چې يواځې د تشو ، احساساتي ، خيالي او غير عملي شعارونو په وړاندې کولو سره د خپلو گوندونو ساده، صادقي او زرباوري ليکې په ځان پسي بوزي .
د دغو گوندونو خورا اسان راجستر د هغوی مشران تشويق او پر خپلو ځانونو دومره غُره (مغرور)کړل چې ان د خپلو ليکو سلاوو ته يې هم غوږونه نه نيول. واقعيت دادی چې ددې گوندونو رښتينو ليکو د زړه له کومې غوښتل چې د نورو همنظره گوندونو د ليکو سره په اصولي توگه يوځای شي ،خو دگوندونو مشرانو يې د رنگارنگ پلمو په جوړولو سره تر اوس پورې د دې کار مخه ډب کړې ده.

اوس د سياسي گوندونو د راجستر شرايط بدل شوي دي. کوچني گوندونه د دې توان نه لري چې د خپلو ليکو لپاره لس زره کسان ومومي . د پوهنمل نوزادي د ليکنې سره سم يا به سره يوځای کيږي او يا به ورک کيږي. ورک کول خو د هيچا هم نه خوښيږي ، مجبور دي چې سره يو ځای شي . خو د چا سره او څنگه ؟
طبيعي خبره ده چې هر څوک به د هغه چا سره يوځای کيږي چې يو وخت يې گډې موخې سره درلودې او تر اوسه هم د هغوموخو د لاسته راوړلو ادعاوې لري . خود مورنيو گوندونوله منځ څخه د بېلا بېلو گوندونو راوتنه له ورايه ښرگندوي چې هغوی په خپل پخواني گډ ژوند کې د يو او بل پر وړاندې د هر ډول مشروع او نامشروع چلند څخه گټه اخيستې وه . که چېرې اوس هغوی د ورک کيدو له وېرې د يو او بل سره دبيرنيو يوځای کيدو په پلمه سم او دقيق تشکيلاتي اصول په نظر کې ونه نيسي، کلک باور لرم چې د سياسي مبارزې پرځای به يې د پخوا په څېر دبېځايه ستونزو سره د ناوړه مبارزې ناخوالې په برخه وي .

زه پوهېږم چې سپيني خبرې ترخې وي او د ډېرو کسانو نه خوښيږی. خو زما په اند د هېواد د رښتيني سياسي غورځنگ د ايجاد په پيل کې ترخې خو سپيني خبرې د ماستماليو په نسبت ډېرې گټورې دي. نو ځکه په واحد ملي سياسي غورځنگ کې د همفکرو روڼ اندو، مترقي او هېوادپالو گوندونو دارگانيک يوځای کيدو لپاره يو ځل بيا اړينه گڼم چې که چېرې هغوی ته زما مخکيني وړانديزونه د منلو وړ وي ، نو د خپلې سمبالتيا په ډگر کې دې لاندې اساسي ټکو ته په سمه توگه پام و کړي :
الف - تر هرڅه دمخه ضرور ده چې د دې گوندونو د مشرتابه هيئتونه له خپلو اوسنيو دندو او مسئوليتونو څخه په خپله خوښه لاس په سر شي ؛
ب - د هر گوند د ليکو له منځ څخه دې د پوهې، صداقت او اصوليت له مخې يويو يا درې درې اويا پنځه پنځه کسه د راتلونکي سياسي غورځنگ د مشرتابه لپاره په دموکراتيک ډول غوره شي ؛
ج - د بې پلوه کسانو له منځ څخه دې هم دټولو گوندونو د غوره شويو کسانو د شمېر په اندازه استازي د غورځنگ مشرتابه ته په دموکراتيک ډول انتخاب شي؛
د - د سياسي غورځنگ لپاره دې داسې نوم غوره شي چې د هغه د تگلارې ، کړنلارې اوورځنيو کړو وړو سره بشپړ سمون ولري ؛
ه - د غورځنگ د مشرتابه اجرائيه هيئت دې يواځې او يواځې د بې پلوه کسانو له استازو څخه جوړ شي او د غورځنگ رئيس دې هم بې پلوه سړی وټاکل شي ؛
و - د غورځنگ د مشرتابه په ترکيب باندې دې د هغوی د پوهې ، صداقت او جدي اصوليت له مخې په پرله پسې توگه غور کيږي؛
ز - د غورځنگ ښکتني سازمانونه دې هم د پورتني اصل له مخې سمبال شي ؛
ح - کله چې دغه ډول تشکيلاتي بهير په برياله توگه بشپړ شي ، اړونده گوندونه دې په هغه کې په رسمي ډول خپل ځانونه منحل کړي .

ښرگنده ده چې د رښتيني سياسي غورځنگ د تأسيس په پورتني لاره کې ډېرې ستونزې او خنډونه شته، خو مهم کارونه همېشه د ستونزو او خنډونو سره مل وي . که چېرې څوک له ستونزو او خنډونو څخه ډاريږي، نو بيا ښه ده چې له لومړي سر څخه دداسې کارونوپه سرته رسولو باندې لاس پورې نه کړي. د خلکو رښتيني خذمتگاران او د خپل هېواد ملي گټو ته ژمن کسان بايد خپلې شخصي،عقيدوي او ملي گټې په داسې سياسي سازمان کې ولټوي چې په ښرگنده توگه د هېواد د روښانه راتلونکي زيری د ځان سره راوړای شي.

په هغه صورت کې چې د نوموړو کوچنيو سياسي گوندونو لپاره پورتني تشکيلاتي اصول د منلو وړ نه وي ، زما په اند به ښه وي چې د بيرنيو يو ځای کيدو پرځای د عدليې وزارت د گوندونو د نوي قانون له مخې منحل او په دغه اوسني مکروبي شکل کې د هېواد له سياسي ډگر څخه بيخي ورک شي. يواځې په دغه صورت کې به د دوی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

بې واکه لیکو ته دا موکه په لاس ورشي چې د پراخ سیاسي غورځنګ د جوړ ولو لپاره د بې پلوه روڼ اندو سره په ګډه ګټورې هلې ځلې پیل کړي .

په هېواد کې د پراخ، پیاوړي او ځواکمن سیاسي ځواک دجوړولو په هیله!

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ